http://www.arianafghanistan.com

داؤد موسی ۲۰۲۰/۰۹/۲۲

# امارت او جمهوریت

د ښاغلی داکتر زمان ستانیزی د "آیا اسلامی امارت د وقت اقتضا ده؟" ترعنوان لاندی چی د ۲۰۲۰/۹/۲۰ پر نیټه په همدی خپرونه کی چاپ سوی وه، ما چی د یوه لحاظه وکتله، کوم بدعت می پکښی و نه لید. دا په دی چی دغه ډاکتر صاحب هری موضوع ته چی لاس اچوی، بی له سر تر سری تتبع او ژورو مطالعاتو یی پر کاغذ باندی نه پلی کوی. دده کور دی ودان وی.

زما خپله هم یوه لیکنه د "نوده هایی که در مجالس صلح باید ازان پیوند کنیم" تر عنوان لاندی څو ورځی مخ کی په همدی وبسایت کی خپره سوی وه چی په هغه کی می ځینی هغه موضوعات چی باید افغانی پلاو د دوحی په غونډه کی د طالبانو سره هرو مرو د هغوی د ځینو څخه صرف نظر وکی په ګوته کړی وه. دا موضوعات ټوله هغه لاس ته راوړنی دی چی په دی څه کم دوو لسیزوکی د ځینو په زعم زموږ په نصیب سوی دی، که څه هم به زموږ د ولس یوی لویی ډلی پر مزاج برابری نه دی.

د دی ارزښتونو په سر کی باید بی له شکه د افغانستان د راتلونکی دولت بڼه (جمهوریت یا امارت؟) موضوع وی چی زه غواړم دلته د دی دوو سیستمونو عمده توپیرونه په ګوته کم:

اول: په جمهوری دولت کی هر څوک کولای شی چی خپل ځان ولسمشری ته کاندید کی. خو په امارتی سیستم کی داسی یو کاندید باید د "حل او عقد د ډلی" څخه او ددوی له خوا وی. دا ډله هغه د سیاسی قدرت خاوندان دی چی ټوله هلی خلی یی د خپل د همدی قدرت د ساتلو د پاره متوجه دی. دا سیستم که څه هم تقریباً په ټولو اسلامی دولتونو کی رواج لری، خو د قرآن عظیم الشان د صریح منصوص حکم سره توپیر لری، په دی شرح:

د احد د غزوی په سر کی، د اسلام پیغمبر (ص) یوی ډلی مجاهدینو ته هدایت ورکړ چی د جنګ د میدان په یوه اړخ کی چی یوه دره وه، هغه وساتی او په هیڅ حالت کی یی پری نږدی. خو کله چی د اسلام لښکرو وار د واره د مشرکینو ډلی ته ماته ورکړه، دغو مجاهدینو د ولجی په طمع، خپل موقف پریښود او مشریکینو ددی خلا په استفادی سره د هغی لاری څخه پر مجاهدینو یرغل وکی او ډیر یی ځینی شهیدان کړل. په دی ډله کی حضرت حمزه (رض) د سیدنا محمد اکا او دده (ص) یو غاښ هم شهیدان سول.

دی واقعی د اسلام پیغمبر(ص) خورا سخت پریشانه کی اودی پریشانی څو ورځی دوام وکی. په پای کی د **آل عمران د سوری ۱۵۹ آیت** د نزول سره چی **"فَاَعَف عَنهُم وَاِستَغفِر لَهُم وَ شاوِرهُم فی الاَمرِ"** یعنی هغو ته عفو وکه، او دوی ته د بخښنی دعا وکه او ددوی سره په کاروی کی صلا وکه، دا موضوع حل سوه. اوس نو دلته خدای (ج) خپل رسول ته فرمایی چی سره ددی چی دی ډلی ستا د فرمانه په سر غړونی داسی یوه لویه فاجعه منځ ته راوسته، ته بیا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

هم په کاروکی ددوی مشوره واخله. ددغه مبارک آیته څخه مطلب یوازی د جمهوری انتخاباتو د سیستم تایید او د "اهل حل و عقد" رد دی.

دوهم: په جمهوری سیستم کی هر څوک کولای سی چی د خپلی خوښی کاندید ته رایه ورکی. خو په امارتی سیستم کی (لکه موږ چی پخپل وطن کی ولیدل) اول عامه انتخابات یا ټول ټاکنه نسته، او که چیری هم وی، د هغه ځای د حل او عقد اهل باید پوره ډاډ ولری چی د دوی کاندید حتماً به بریالی کیږی.

دریم: په جمهوری سیستم کی یو ولس مشر او د هغه مرستیال(ان) یوازی د یوی محدودی زمانی دپاره چی په قانون کی ټاکل سوی ده، حکومت کولای سی. حال دا چی په امارتی سیستم کی امیر تر څو چی ژوندی وی او د کار قدرت او خواست ولری، د قدرت د کرسۍ څخه نسی لیری کیدای.

څلورم: په جمهوری سیستم کی یو څوک حق لری چی ځان صرف د دوو یا بعضاً د درو دورو د پاره کاندید کی، خو په امارتی سیستم کی لکه چی پورته په ګوته سوه، د امیر دوره عمری وی.

زموږ په هیواد کی هغه کسان چی ځان ته "خبرګان" وایی، اکثراً په دی عقیده دی چی که چیری د طالبانو زعیمان د افغانستان په راتلونکی حکومت او دولت کی مشمول هم سی، نوهر کله چی دغه کسان ځپل ځان په انتخاباتو کی کاندی کی، یو تن به یی هم بریالی نسی. خو زه پر دی عقیدی باندی شک لرم. ولی چی موږ د خپل وطن په تاریخ کی ولیدل چی که چیری د طالبانو د کیبل وهلو جزا، یا د کالیو او ویښتانو د کود تحمیل او داسی نور کارونه نه وای، نو ددوی د امنیت راوستلو او سمدلاسه قضاوت خصیصه به ډیر دطرفداران ولری.

د امیر د لقب په اړوند غواړم چی دلته د ښاغلی عبدالستار سیرت د قلم څخه یوه قصه نقل کم چی زما په عقیده پر دی موضوع باندی لږ څه نوره رڼا هم اچوی:

با تشکیل دولت اسلامی بعد از هجرت رسول الله صلی الله علیه و سلم - از مکه به مدینه منوره موضوع ریاست دولت و لقب خاص برای رئیس دولت یا انتخاب رئیس دولت اصلاً مطرح نبود. به خاطریکه شخص رسول الله صلی الله علیه وسلم حیات و حضور داشتند و کدام ریاست و زعامت دیگری و یا کدام لقب و عنوان جدید در پهلوی (رسول الله صلی الله علیه و سلم) قابل توجه بوده نمی توانست. اما به مجرد رحلت آنحضرت – صلی الله علیه و سلم – امر جانشینی و ریاست دولت اسلامی بحدی مهم و حیاتی تلقی گردید که حتی فاجعهٔ وفات و حالت دردناک ناشی از آن و موضوع تجهیز و تدفین آن محبوب رب العالمین سبب تأخیر آن، ولو برای دو روز هم نشد، و این میرساند که فضای زعامت مسلمین و ریاست دولت اسلامی نباید خالی گذاشته شود.

ابوبکر صدیق – رضی الله عنه – بعد ز رسول اکرم - صلی الله علیه و سلم – بحیث اولین رئیس دولت اسلامی شناخته شد، رؤسای دولتها در حوالی جزیرة العرب دران زمان امپراطوری های بزرگ و نظام های پادشاهی و شاهنشاهی داشتند و عناوین و القاب شان نیز به همان تناسب نمایانگر قدرت و امتیاز خاص منحصر بخود شان بود، اما ابوبکر صدیق – رضی الله عنه – و اصحاب رسول الله- صلی الله علیه وسلم – از یکسو نخواستند از دولت های غیر اسلامی اقتباس نمایند، و از جانب دیگر ریاست دولت در نظر آنها امتیاز و بزرگ نمایی نبود، بل مکلفیت و مسؤولیت پنداشته میشد. ازان رو لقب رئیس دولت به الهام آیهٔ مبارکهٔ (إِنی جاعِلٌ فی الأَرضِ خَلیفةً – اَلبقر : ۳۰ ) که دران الله متعال (جل جلاله) هنگام ارادهٔ آفرینش انسان به ملائک فرمود : من در زمین خلیفه می آفرینم. کلمهٔ


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

(خلیفه) که عنوان هر انسان شده میتواند، انتخاب گردید و چون معنی جای نشین و قائم مقام را افاده میکند و ابوبکر صدیق – رضی الله عنه – بعد از رحلت رسول الله – صلی الله علیه وسلم – در تطبیق شریعت اسلامی و در زعامت مسلمین جانشین آنحضرت – صلی الله علیه و سلم - بود عنوان رئیس اولین دولت اسلامی و لقب ابوبکر صدیق – رضی الله عنه – شناخته شد.

عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – که بعد از ابوبکر صدیق – (خلیفهٔ رسوال الله صلی الله علیه و سلم) عهده دار این مقام گردید، و چون جانشین و خلیفهٔ ابوبکر صدیق - رضی الله عنه – بود به عنوان (خلیفهٔ خلیفهٔ رسول الله) یاد میشد، ترکیب چنین عبارت مخصوصاً در مورد خلیفهٔ سوم و چهارم و بالاتر ازان مشکل نطق و طوالت لقب را ایجاد میکرد. بناءً عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – و کبار صحابهٔ کرام در صدد انتخاب لقب جدید با رعایت عدم تقلید از خارج و مناسب تفکر اسلامی شدند. هنوز این مأمول برآورده نشده بود که دو نفر (عدی بن حاتم و لبید بن ربیعه) از عراق بمنظور تقدیم احوال و اوضاع عراق بحضور عمر بن الخطاب وارد مدینه شده بودند و هنگامی که این دو نفر داخل مسجد مبارک نبوی شدند، عمرو بن عاص – رضی الله عنه – در مسجد نشسته بود، این دو نفر به وی گفتند از امیرالمؤمنین بما اجازهٔ دیدار بگیر، می خواهیم با وی صحبت داشته باشیم. عمرو بن عاص – رضی الله عنه – داخل شد و گفت : السلام علیک یا امیر المؤمنین! عمر – رضی الله عنه – خطاب (امیر المؤمنین) را با تعجب شنید و عمرو بن عاص علاوه کرد : اَنتَ اَمیر وَ نَحنُ اَلمؤمنون – تو امیر هستی و ما مؤمنان – عبارت (امیرالمؤمنین) که بدون تکلف ازان دو عراقی شنیده شد، مناسب ترین لقب رئیس دولت اسلامی ازان روز به بعد تلقی گردید، و عمر بن الخطاب رضی الله عنه اولین امیرالمؤمنین در نظام سیاسی اسلام و در مقام ریاست دولت اسلامی معرفی گردید.[١]. الله یاور.

امارت او جمهوریت

.



برای مطالب دیگر این نویسنده، اینجا کلیک کنید

[١] د دی داستان مأخذ د "خاطرات ایمانی مردان حق" کتاب دئ چی په ١٣٩٧ هجری شمسی کال کی په کلیفورنیا کی چاپ سوئ دئ.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com